# د خوشحال د بشپړ سړي او د نطشے د اوبرمېنش تقابلي جايزه

## The Comparative Study of the Ample man of Khushal And The Supper Man of Nietzsche

Dr Sajjad [i]
E.mail sajjad.elahi@icp.edu.pk
Phone# 03038790153
Dr Shakeel Ahmad[ii]
E.mail shakeeluop@gmail.com
Phone # 03219860765

Issn 2304-1463

**Abstract:**

**Great people are always made out by character and their character building leads toward recognizing their services by the People. And more great impacts on others. Khushal khan Khattak is a man of splined character remarkable qualities. Who can rightly he called a Superman. if Suppose his qualities and values have been in practically demonstrated by the people can complete the world. Khushal Khan personality can be a role model for all the humans. In this research paper the same quality of Khushal Khan Khattak will be discussed in depth.**

د نطشے سپر مېن چې پۀ جرمني ژبه کښې د ”اوبرمېنش“ نه اخستے شوے دے - اوبر پۀ معنی د سپر یعنې غوره یا لوے او مېنش د مېن یعنې د سړي پۀ معنی کښې مخې ته راځي دغسې دا کلمه د Supper Man پۀ اصطلاح کښې مقبوله شوې ده چې د مغرب تر ټولو مشهور کردار دے پۀ دې کردار د بحث نه وړاندې اول باید د نطشے لنډه پېژنګلوي وشي او د هغې نه پس د هغۀ افکار واضح شي بیا ورستو راځو دې له چې د خوشحال د بشپړه سړي او د نطشے سپرمېن تقابل اوشي -

”پرشیا میں، جو جرمنی کا سب سے بڑا ملک ہے اور جس کے بادشاہ گزشتہ جنگ عظیم تک قیصر کہلاتے تھے۔ ایک صوبہ ہے جس کا نام زکسن (Sachsen) انگریزی (Sayxony) ہے۔ اس کا نام جرمنی میں ایک ملک بھی ہے جس کا دارالسلطنت ڈرسڈن (Dresden) ہے۔ لحاظہ ان دونوں کو مخلوط نہ کرنا چاہیے۔ اس صوبہ زکسن میں لوتسن (Lutzen) نامی ایک شہر ہے۔ اس شہر کے قریب ایک قصبہ ہے جس کا نام روے کن (Rocken) ہے۔ اسی قصبے میں پندرہ اکتوبر 1844ء کو ہمارا مصنف او فلسفی فریدرش ویلیم نطشے (Friedrich Wilhelm Nietszche) پیدا ہوا“۔[1]

---

[i] lecturer Department of Pashto, Islamia College University, Peshawar
[ii] Lecturer Department of Pashto, University of Peshawar

پرشیا کوم چې د جرمني تر ټولو لوے ریاست دے چې تر جنګ عظیمه ئې باچا پۀ قیصر نومېدو- د دې یوه صوبه ده چې زکسن نومېږي پۀ کوم نوم چې پۀ جرمني کښې یو ملک هم دے چې دارالسطنت ئې ډرسډن دے پۀ دې وجه دا دواړه یو نۀ دي حسابول پکار - هم پۀ دې زکسن صوبه کښې لوتسن نومې یو ښار دے او د دې ښار پۀ خوا کښې یو کلے دے چې روېکن نومېږي- هم دلته پۀ پینځلسم اکتوبر 1848ء زمونږه دا لوے فلسفي فریدرش ویلیم نطشے پېدا شو ے-"

د نطشے زېږون پۀ یوه مذهبي کورنۍ کښې شوے دے وئیلے شي چې د دۀ پلار یو پادري و کوم چې د نطشے د زېږون نه لږه موده وړاندې ومړېدو - د دې نه پس نطشے د خپلې مور سره د خپل نیکۀ پۀ کور کښې اوسېدل شروع کړل - د دغه کورنۍ تعلق د کیتولک مسلک سره ؤ د کومې اثر چې د نطشے پۀ ماشوموالي ژوند باندې شوے ؤ - تر دې چې نطشے دومره مذهبي ؤ چې پۀ سکول کښې به ورته خپلو ملګرو "وړوکے پادري" هم وئیل - خو ورستو چې نطشے څومره هم فلسفیانه افکار تخلیق کړل هم د دې مسلک ضد وو- بلکې د نطشے متعلق هم دا وئیل کېږي چې پۀ هلکوالي کښې د څومره پوهې نه هم متاثره شوے ؤ خپل ټول کار ئې هم د دې پوهې پۀ ضد کړے دے او تنقیدي بصیرت ئې څرګند کړے دے - لکه د شوپن هار د یو عالم پۀ حېث او د یو انسان پۀ حېث غوندې ما بعدالطبعیاتي فلسفې نه متاثره ؤ خو ورستو ئې د شوپن هار دغه نظریاتو باندې نقد کړے دے او سخت مخالفت ئې ورسره څرګند کړے دے- دغسې د واګنر چې د موسیقۍ لوے استاد ؤ او دے د دۀ نزدے ملګرو او شاګردانو کښې و خو نطشے د دۀ خیالات هم رد کړي دي - دغسې چې کله دے د شلو کلونو پۀ عمر شو نو د غېر معمولي ذهانت لۀ کبله ئې پۀ ذهن کښې فلسفیانه خیالات یا د روایت ضد خیالات پېدا کېدل د کومې سره چې د دۀ پۀ روایتي مذهب او د هغې پۀ روایتي خدا ے باندې یقین صرف ختم نۀ شو بلکې د دې خلاف ئې ورستو پوره بنیادي کار تخلیق کړو - نطشے پۀ اول اول کښې پۀ فوج کښې نوکر شو ولې هلته یو خوا د دۀ زړۀ نۀ لګېدو بل خوا چې دے داس نه وغورځېدو او زخمي کېدو پۀ وجه باندې دے د فوج نه وویستے شو - ورستو پۀ باسلے پوهنتون کښې استاذ هم مقرر شوے دے خو ډېر زر ئې دغه استاذي هم

پربښي ده - خو د دې سره سره ئې په خپل ژوند کښې يوه لمحه هم نۀ ده ځايه کړې او د جديد وجوديت يو داسې بنياد ئې قايم کړے دے د کومې لۀ وجې چې نن نطشے د جديديت پۀ سرخېلانو کښې شمېرلے شي - بلکې کۀ داسې ووايو نو سمه به وي چې نطشے مغرب د جديديت سره مخ کړے دے - خو دا خبره ده چې د نطشے پۀ ژوند د هغۀ داسې هيڅ يو ليک ته هيڅ شهرت نۀ دے ترلاسه شوے - د شلمې صدئ پۀ دربمه لسيزه کښې د نطشے افکارو ته نړيوال شهرت ترلاسه شو پۀ کومه کښې چې لوے کار د هغۀ د "فوق البشر" نظريه ده - نطشے چې کوم کتابونه ليکلي دي د هغې تفصيل څۀ پۀ دا ډول دے:

- The Birth of Tragedy (1872)
- Thus Spoks Zarthustra (1883-85)
- Beyond Good and Evil (1886)
- Twilight of the Idols (1888)

د دې نه علاوه ئې يو شمېر مضامين هم وخت پۀ وخت چاپ شوي دي - دا لوے فلسفي پۀ ۱۸۹۰ء کښې خاورو ته سپارلے شوے دے -

د نطشے د نړيوال شهرت وجه د هغۀ Thus Spoks Zarthustra کتاب دے چې پۀ اردو کښې د "زرتشت نے کها" او پښتو کښې "زرتشت ووئيل" پۀ نامه چاپ دے - پۀ دې کتاب کښې نطشے د زرتشت د کردار پۀ ژبه غږېدلے دے او پۀ اول ځل ئې د خېر او شر پۀ تناظر کښې انسان ته د روايتي مذهب او توهماتو نه د ځان ژغورلو درس ورکړے - اوس کۀ چرې د زرتشت د اصلي تعليماتو پلټنه کوو نو ناممکنه به وي خو دلته د نطشے لۀ خوا خپل پېغام له د زرتشت ژبه ورکول هم سوال ولاړوي - يعنې يو خوا د نطشے زرتشت ته اپروچ فلسفيانه دے کوم چې د هر څۀ نه زيات پۀ عمل زور ورکوي او غواړي چې د ناممکنه يا چې هډو شته نۀ دوېم جهان (جنت دوزخ يا دوېم جنم) له انسان دومره خواري کوي چې دا دنيا ئې د دغې عمل لۀ وجې متاثره کېږي نو غوره دا ده چې انسان دې هر ګام هم د دې دنيا د بقا د پاره پورته کړي - نو بل خوا د خپلو مکالمو د پاره د زرتشت غوره کول خپله دا معنیٰ لري چې هغه د اريائي نسلونو پېغمبر ګڼلے شي - ولې چې تر دا وخته د زرتشت متعلق څومره هم معلومات دي هغه هم دا دي چې هغه د بلخ موجوده افغانستان پۀ ټاټوبي کښې زېږېدلے ؤ، ورستو دغه اريائي

نسلونو ئې تعليمات د ځان سره تر يورپ پورې ورسولي دي - د زرتشت تعليمات لکه چې پورته وئيلي شوي چې د وېدانيت په ضد مخې ته راغلي دي - يعنې چرته چې اوبۀ مقدس ګرځېدلې او عبادت ئې کېدو نو بل خوا اور ته سجدې هم په دغه غرض کېدې چې اور د اوبو متضاد دے - په دې حقله مولانا ابوالکلام ازاد ليکي:

*زرتشت کی تعلیم میں ہندوستانی اریا کے ویدی عقاید کی رد صاف صاف نمایاہے۔ ایک ہی نام ایران اور ہندوستان دونوں جگہ ابھرتاہے اور متضاد معنی پیدا کرلیتاہے۔ اوستا کا ''اہورا'' سام اور یجر وید میں ''اسوار'' ہے اور اگرچہ رگ وید میں اس کا اطلاق اچھی معنوں پر ہوا تھا۔ مگر اب وہ برائی کی شیطانی روح بن گیا۔ ویدوں کا ''اندرا'' اوستا کا'' انگرا'' ہوگیا۔ ویدوں میں وہ اسمان کا خدا تھااوستامیں زمین کا شیطان ہے''[2]*

د زرتشت په تعليماتو کښې د هندوستاني ارياو رد صفا ځرګنده دے - يونوم په ايران او هندوستان دواړه ځايه کښې مخې ته راځي خو معنې متضاد ورکوي - د اوستا اهوره د سام يجرويد اسوار دے اګر چې په رګ ويد کښې د دې اطلاق په ښۀ ټکو سره شوے ؤ - خو اوس هغه د بدۍ شېطاني روح ګرځېدلے دے - دغسې د وېدونو اندرا د اوستا انګرا شو - په ويدونو کښې اندرا د اسمان خدا ے ؤ او په اوستا کښې د زمکې شېطان-

دغسې د زرتشت تعليمات د زاړۀ وېدي مذهب په رد کښې تشکيل شوي دي - چې بنيادي نکته ئې د ديوتاګانو د منلو په ځاے د توحيد پرچار دے - د زرتشت سره تړلې دا خبرې هم د يادونې وړ دي چې هغه په نړۍ کښې په اول ځل د خېر او شر اصطلاح رائج کړې ده - د کومې سره چې د انسان په ذاتي عمل او ارادو باندې زور راوړل شوے دے او د کائناتو بقا ئې د دۀ په اختيار کښې ګرځولې ده - خو دا خبره هم ځاے نيسي چې د هغۀ پېروکار پېدا کېدل عن تر دې چې تر نطشے پورې خپل ځان منل دا خبره ده چې زرتشت د فلسفې په ځاے مذهب ته ورته ؤ خو نطشے چې کوم زرتشت راوړي هغه د اصلي زرتشت نه بېخي مختلف دے - ځکه چې د نطشے زرتشت د خدا ے د مرګ زيرے دنيا ته ورکوي او اصلي زرتشت د خدا ے د شتون پېغام لرولو- البته نطشے چې د خپل زرتشت په وساطت کوم پېغام د اصلي زرتشت وړاندې کړے دے هغه هم دغه دے چې دنيا د زوج په نظام روانه ده او دغه زوجي نظام دے چې هره جوړه پکښې د يو بل په متضاد تلو سره د کائناتو تشکيل کوي - يعنې چې

جمع شته نو منفي به خامخا وي او دا فطرت دے لکه د اهورمزه او اهرمن کردار هم داسې دے لکه د خدا ے او د شیطان تصور- هم پۀ دغه بنیاد نطشے هم د خپل "سپرمېن" بنیاد اېښودے دے - د نطشے مطابق خېر او شر دواړه د انساني ارادې پېداواري اعمال دي کوم چې د دې کائناتو د بقا د پاره پۀ وجود کښې راغلي دي او د دې نه پرته بل کوم داسې هېڅ قوت یا طاقت نشته دے چې ګڼې انسان ئې وګڼي چې زما اختیار د هغۀ پۀ لاس کښې دے تر دې چې د خدا ے مفروضه هم - ځکه نو چې کله زرتشت د غر نه راکوز شي او د یو بوډا راهب سره ملاو شي او د هغۀ سره مکالمه کوي نو زرتشت د طنز پۀ توګه ووائي چې "دې راهب ته لا دا هم پته نشته چې خدا ے مړ شوے دے"

> "But When Zarathustra was alone he spoke thus to his heart: "Could it be possible! This old saint in his woods has not yet heard the news that God is dead"[3]

ژباړه : کله چې زرتشت یوائې شو نو پۀ خپل زړۀ کښې ئې ووئیل چې دا څنګه ممکن ده چې دې ضعیف تر اوسه پۀ دې ځنګل کښې دا نۀ دي اورېدلي چې خدا ے مړ دے-

دلته د خدا ے د مړ کېدو نه مراد د هر هغه فکر د رد خبره ده کومه چې پۀ مذهب،یا توهماتو باندې یقین لري- د نطشے تر مخه انسان ته مذهبي مغالطې بلها زیان ورسوۀ - تر څو چې د انسانانو دا یقین وي چې ګوندې زما وجود او زما اختیار د یو بل غېبي قوت پۀ لاس کښې دے زۀ کۀ دلته ښۀ عمل وکړم نو ما د پاره جنت دے او کۀ بد عمل وکړم نو دوزخ پۀ نورو مذهبونو کښې دغه خبره د ښۀ جنم او بد جنم پۀ معنی ده - نو تر هغې به انسان د دې دنیا نه کرکه کوي یا دې دنیا ته به د حقارت پۀ سترګه ګوري چې دې سره د انسان او د کائناتو پۀ ارتقا او بقا باندې اثر پرېوځي ولې چې یوه دا دنیا ده چې د اختیار واګې ئې د انسان لاس کښې دي او یوه هغه دنیا ده چې هیڅ حقیقت نۀ لري - کۀ کوم څوک د حقیقت نۀ لرونکي دنیا د پاره دې دنیا ته سپک نظر کوي نو د نطشے پۀ نظر کښې دا خلق هم داسې پۀ مغالطه کښې پراتۀ دي لکه څنګه چې پۀ ځنګل کښې دغه ضعیف راهب دے - د دې هر څۀ پۀ شا د مغرب Dark Age دے چې د مذهبونو پۀ نوم جنګونه کېدل او دغه هر څۀ نطشے پۀ خپل لاشعور کښې اخستي وو- یعنې حقیقي دنیا چې پۀ کومه کښې انسان اوسېږي دا ړنګېده د دې د پاره چې

انسان د شتون نۀ لرونکي جهان حرص کوي- د دې وجې نه چې ځومره هم مذهبونه راغلي دي هغې اولس ته د اسمان درس ورکړے دے او نطشے پۀ اول ځل د زرتشت پۀ ذریعه د زمکې د ابادولو پېغام راوړے دے- هر کله چې خبره د زمکې د ابادولو ده نو د هغې د پاره د زرتشت پۀ نظر کښې تر هر څۀ غوره انسان دے- خو عام انسانانو دا دنیا د اسماني یا توهماتي سوچ لۀ وجې ړنګه کړې ده او دغسې د عام انسان نه هم وړاندې نطشے د فوق البشر تصور مخې ته راوړي کوم چې پۀ اصل معنو کښې د سپرمېن بنیاد دے-

نطشے پۀ یوه حواله د ډارون نه متاثره دے ځکه د هغۀ د سپرمېن نظریه هم د ډارون د ارتقا نظرئې ته ورته ده- څۀ رنګ چې ډارون وائي چې ټول مخلوق د یو چینجي نما جراثیم نه زېږدلي دي او هر نسل خپله ارتقا کړې ده د ځانه ئې نور نور مخلوقات مخې ته راوړي دي چې پکښې انسان د شادو یا بیزوجدید شکل دے چې اوس ترې جلا شمېرلے کېږي- هم پۀ دغه بنیاد نطشے هم د فوق البشر بنیاد ږدي لکه کله چې زرتشت پۀ ښار ورګډ شي او پۀ بازار کښې کومه ډله وويني نو هم داسې ورته وائي چې:

*"میں تمھیں فوق البشر کی تعلیم دیتاہوں انسان ایک ایسی چیز ہے جس سے اگے بڑھنا چاہیے بتاو تو سہی کہ تم نے اس سے اگے بڑھنے کے لیے کیا کیا ہے؟ اب تک ہر مخلوق نے اپنے آپ سے بڑھ کر کسی چیز کو پیدا کیا ہے لیکن کیا تم الٹا اس بڑے مد کا جزر ہونا چاہتے ہو اور بجایے اس کے کہ تم انسان سے اگے بڑھ جاو تم اس بات کو ترجیح دیتے ہو کہ حیوانیت کی طرف تنزل کرو۔"*[4]

زۀ تاسو ته د فوق البشر تعلیم درکومه انسان یو داسې مخلوق دے چې د دې نه وړاندې تلل پکار دي تاسو ووایئ چې تاسو د دې نه د مخکښې تلو د پاره څۀ کړي دي- تر دا دمه هر مخلوق د خپل ځان نه غوره څۀ پېدا کړي دي خو تاسو غواړئ چې تاسو د دې عمل برخه شئ؟ او د انسان نه مخکښې تګ وکړئ او کۀ نۀ غواړئ چې واپس د حیوانیت پۀ لور تګ وکړئ؟

د نطشے پۀ نظر کښې انسان چې د ځومره ارتقا نه راتېر شوے دے او نن پۀ کوم صورت باندې ولاړ دے دۀ ته د دې نه اخوا هم د یوې ارتقا پۀ لور تګ دے او دغه ارتقا چې د انسان نه مخکښې لاړه شي نو فوق البشر یعني د سپرمېن ظهور به وشي- پۀ مشرق کښې چې عموماً پۀ نطشے کوم اعتراض کېږي هم دغه کېږي چې د هغۀ فوق البشر پۀ ټولنه کښې هیڅ د

شتون امکان نۀ لري د انسان د خپلې ارتقا اخري حد دے د دې اخوا ممکن نۀ ده چې بل کوم نسل ترې تخليق شي - د نطشے پۀ حواله دا قسمه تنقيدي رويه د اقبال د تشريح کونکو ده - دلته د دغه خلقو سره لږ اختلاف ضرور کيدے شي او هغه دا چې نطشے دا پۀ يو ډول هم نۀ دي وئيلي چې ګوندې انسان دې د ديوتا تخليق وکړي - بلکې د نطشے پۀ خيال "انسان يو داسې څيز دے چې دۀ له مستقل کېدل پکار دي" مطلب انسان د دې کائناتو د بقا ضامن ګرځېدے شي- د نطشے سپرمېن يا فوق البشر مخلوق هم دا انسان دے کوم چې پۀ دې ټولنه کښې دے خو د دۀ ذهني ارتقا پۀ يو داسې ډول پکار ده چې دے دنيا ته پۀ خپل زور سره خبر وبخښي - نطشے د زمکې د ودانۍ د پاره فوق البشر غوره انسان تصور کوي - د نطشے پۀ خيال کښې انسان پۀ ذهني طور هم هغسې دے لکه زرګونه کلونه مخکښې چې ۇ البته د خدايانو جوړ کړې شوے تصور ئې وخت پۀ وخت بدل شوے دے - دغه زمونږ جوړ کړي د خدا ے تصور نه مونږه ځان پۀ خپله باندې هم او راتلونکي نسلونه هم ګمراه کړي دي - اوس کۀ د خدا ے د مرګ تصور دے نو پۀ حقيقي معنو کښې هم د هغه سوچ يا فکر مرګ دے کوم چې د صدو صدو نه د انسان سره د توهماتو پۀ شکل کښې راروان دے - البته د نطشے سره چې پۀ کومه نقطه اختلاف کېدے شي هغه د هغۀ انتهاپسندانه ټولنيزه رويه ده - خو تر کومه چې دا خبره ده "خدا ے مړ دے" نو نطشے دغه د سپر مېن د پاره د عملي ژوند معيار ټاکي او د انسان يو داسې پړاو پۀ وجود کښې راوستل غواړي چې دے پۀ خپله د خپل اختيار مالک شي - اوس راځو دې خبرې له چې د خوشحال د بشپړه سړي او د نطشے د بشپړه سړي پرتليزه جاج واخستے شي -

د خوشحال د بشپړه سړي او د نطشے د سپرمېن جاج چې مونږ اخلو مهم ده چې دا خبره پۀ پام کښې وساتو چې دواړه ليکوالان دي يعنې يو ته لوستې شاعر وئيلے شو او بل ته لوستے فلسفي - خو دواړو د خپلو افکار د نچوړ مجسم پۀ خپلو ائيډيلو کردارونو وړاندې کړے دے - دې سره سره دا خبره به هم پۀ نظر کښې لرو چې يو پۀ اولسمه صدۍ کښې د مشرقي رواياتو تر څنګه لوے شوے دے او بل پۀ نورلسمه صدۍ کښې د مغربي رواياتو- دلته مجموعي طور چې کوم فرق د دواړو پۀ افکارو کښې څرګند دے هغه دا دے چې خوشحال پۀ يو حواله سره روايت پسندي خپله کړې ده ولې نطشے پۀ دغه حواله پۀ مغرب

کښې جدید تصور کېږي هم ځکه چې هغهٔ روایات مات کړي دي - زما پهٔ نظر کښې روایت پالل هم د ټولنیز نفسیاتو د پاره خپلې ګټې او نقصانات لري او روایات ماتول هم ګټې او نقصانات لري - اوس د کومو زاویو نه چې د د دوارو جاج اخستل کېدل ممکن دي هغه باید د ټولنیز ژوند د روان او راروان حالاتو پهٔ تناظر کښې اوشي چې د هغې د پاره پهٔ دغه توکو باندې د دوارو تعین پکار دے -

## اخلاقي اقدار:

لکه څنګه چې ما پورته د نطشے او د خوشحال پهٔ حقله اول ځرګنده شوه چې د دوارو پهٔ تعین کښې به مشرق او مغرب پهٔ نظر کښې ساتو- اوس چې د اخلاقیاتو خبره کوو نو دا خبره خو به کوو چې "اخلاقیات د فلسفې هغه څانګه ده پهٔ کومه کښې چې د انسان پهٔ کړهٔ وړهٔ باندې بحث کېږي" او چې د دوارو د ائیډیل تصوراتو کړهٔ وړهٔ پهٔ نظر کښې ساتو نو د خوشحال بشپړه سړے هم د خپلې ټولنې د معراج د پاره خپل کړهٔ وړهٔ پکار راولي تر دې چې د دهٔ خېر او شر دوه قوتونه د انسان پهٔ ښېګړه تمامېږي - لکه د خوشحال دا شعرونه چې:

"اهل شر وته د باز منګول پېدا کړه
اهل خېر وته حلیم شه تر حمامه"[5]

هم مهره لري هم زهر
ښهٔ ځوانان دي لکه مار[6]

د پورته شعرونو پهٔ تاثر کښې خوشحال دوه اړخونه د خپل بشپړه سړي پهٔ ګوته کوي لکه پهٔ یو شعر کښې د شاهین منګول د شر پهٔ معنٰی دے او حلیم د خېر علامت دے دغسې پهٔ دوېم شعر کښې مهره د خېر علامت دے او زهر د شر علامت دے- خو خوشحال ئې پکاروي پهٔ داسې ډول چې پهٔ اخلاقیاتو کښې پرې د خېر او شر دواړه د انسان پهٔ ښېګړه تمامېدل ممکن کېدلے شي- هم دغه فلسفه د نطشے د سپرمېن ځانګړنه ده خو فرق ئې دغه دے چې د نطشے سپرمېن د اخلاقي نظام د مذهب، ټولنې یا نورو کومو غوښتنو نه ماورا دے- د نطشے پهٔ خیال هر هغه اخلاق غلامانه دي چې د کومې مجبورۍ پهٔ وجه ئې انسان پهٔ ځان کښې

راولي - بلکې نطشے وائي چې تر اوسه مونږ څۀ ته ښۀ وايو د دې پۀ شا انسان خپل اصل شکل پټ کړے دے او دغه د دۀ کمزوري هم ده انسان له پکار دي چې خپل دننه ښۀ او بد پۀ خپل اختيار کښې وساتي د کومې پۀ وساطت چې سپر مېن ممکن کېدے شي - يعنې دلته ښۀ او بد او خپل اختيار د نطشے د فوق البشر خبره ده د کومې د پاره چې هغه انسانانو ته درس ورکوي -

بل طرف ته کۀ پۀ دغه نظر کښې د خوشحال تصور ته راځو نو خوشحال پۀ اخلاقي بڼه کښې د روايت علمبردار دے د خوشحال اخلاقيات کۀ څۀنې ځاے کښې فرسوده روايات دي خو ولې چرته چې د انسان د "ټولنيز ځناور" خبره ده نو د هغې د پاره روايات پالل هم مهم دي اګر چې د نطشے نفسياتي مزاج کښې د رشتو پاللو خاص قدر نشته تر دې چې نطشے پۀ مينه هم يقين نۀ ساتي ولې دغه د هغۀ ذاتي نفسياتي عوامل وو چې پۀ ټولنه ئې هم لاګو کړي دي - البته د کومو اخلاقياتو پۀ رد چې نطشے کوم ليکونه کړي دي د هغې مقصد هر ګز دا نۀ دے چې ګنې نطشے يو قسم له بد تهذيبۍ ته لاره سموي - بلکې د نطشے زړۀ د مذهبي او څۀنې توهماتي اخلاقياتو نه تور ؤ د کومې پۀ وجه چې هغۀ ګڼلې وه چې دا قسمه اخلاقيات انسان بزدله کوي - دلته د نطشے اخلاقي نظام پۀ يوه حواله د روسو د شخصي ازادۍ سره سمون خوري - يعنې انسان چې دننه پۀ کوم ډول دے بايد چې بهر دنيا ته هم هغه شکل وښائي - روسو چې فصاحت او بلاغت د ټولنې د پاره زيانمند ګرځول د هغې وجه هم دغه وه کومه چې د نطشے د سپرمېن د پاره ده - البته خوشحال چې پۀ کومه حواله بدل دے د هغې وجه دغه ده چې د خوشحال فکري نظام يو خوا د خپلې معاشرې د پښتونولۍ او اسلامي نظام نه چاپېره چورلېدو او بل طرف ته خوشحال پۀ فلسفه کښې د کلاسيکي رواياتو نه متاثره ؤ چې پۀ دستارنامه کښې د افلاطون رنګ ځرګنده ليدے شي - ولې نطشے د خپل سپرمېن بنياد خالص د کلاسيکي رواياتو پۀ ضد ايښودے دے - دلته پۀ اخلاقي بڼه کښې د نتيجې پۀ توګه دا خبره راوړم چې د خوشحال بشپړه سړے او د نطشے سپرمېن دواړه د انساني ژوند د ښۀ معيار د پاره پۀ وجود کښې راغلي دي خو نطشے چې کوم اخلاقي نظام نه بغاوت کړے دے هغه د خوشحال د بشپړه سړي بنيادي نظام دے - د خوشحال اخلاقي نظام پۀ ځان کښې مشرقي بڼه لري چې د خوشحال د معاشرې او مذهب ترجماني کوي ولې "د نطشے سپرمېن پۀ

اخلاقي بڼه کښې د وجوديت علمبردار دے"- د خوشحال په بشپړه سرې کښې عمل پېدا کول د هغهٔ د د ستارنامې شل هنرونه دي او دغه هنرونه په ځان کښې شته کول د سختو نه تېرېدل دي او د نطشے سپرمېن هم هغه انساني ارتقا ده چې وائي "انسان د سپرمېن او د يو حېوان ترمنځه د پُل په مثال ولاړ دے" -

ټولنيز اقدار:

کهٔ چرې مونږ دا منو چې انسان Social Animal دے نو بيا دغه سوشل لفظ دا معنی لري چې دے د نورو حېواناتو نه غوره په دې دے چې د خپل چاپېرچل په رغ کړے شوي نظام کښې ژوند کوي اګر چې نظام لکه د ولاړ ډند نهٔ وي بلکې دا د ارتقا سره بدلېږي او د وخت سره سره خپل اقدار نوي کوي يا کم از کم اصلاحات پکښې کوي - دې اصلاحاتو سره قامونه مخ په وړاندې تګ کوي او د يو بل سيالي د دنيا د ارتقا سبب ګرځي - اوس کهٔ ټولنه هم داسې شي چې انسان پکښې د فطرت تر مخه پېدا کېږي د نسل د بقا تر مخه ئې مور څو کلونه ساتي باقي د دهٔ ژوند د دهٔ خپله مرضي وي نو داسې غالباً چې ممکن نهٔ ده - ځکه نو دلته چې د نطشے او د خوشحال د تصوراتو خبره کوو نو اول خبره دا ده چې نطشے د رشتو په معامله کښې انتهاپسندانه سوچ لري او په خصوصي توګه د ښځې د ذات سره د هغهٔ ذاتي نفرت د هغه په افکارو کښې څرګند دے کوم چې د هغهٔ د سپر مېن د پاره د جېنډر ډسکرمنېش په توګه غېب ګرځي - په کومه ټولنه کښې چې د ښځې کردار ته د نطشے په نظر وکتل شي لازمي ده چې دغه ټولنه به د ارتقا په عمل کښې کمزورې وي - دلته د ښځو متعلق د خوشحال او د نطشے د افکارو نه لنډې نمونې وړاندې کوم - خوشحال هسې خو په شاعرئ کښې د حسن او عشق قائله دے او په شاعرئ کښې ئې د وصال او فراق سره سره د پښتنو ښځو د نفسياتو پوره پوره جاج اخستې دے بلکې د ښځو متعلق چې خوشحال کوم جرات سره خبرې کړې دي په پښتو ادب کښې نهٔ د خوشحال نه مخکښې چا هغه معيار قايم ساتلے ؤ او نهٔ ورستو- خو تر کومه چې د بشپړه سرې خبره ده نو د هغهٔ د پاره په دغه معامله کښې د سنجيدګئ سره مخ دے لکه وائي!

"دا هومره زده کړه چې د نر او ښځې تر میان کېږي چې مینه محبت کېږي مقصود د هغه محبت واړه دا دے د تولد تناسل لار مسدود نۀ شي -دا خراب جهان پۀ دا محبت ودان دے"[7]

د دې لنډ اقتباس نه دومره معلومېږي چې خوشحال د ښځې او د سړي تر مینځه رشته د محبت پۀ بنیاد یو فطرتي عمل ګڼي دې سره دا خبره واضحېږي چې د خوشحال بشپړه سړے به ښځه لرونکے هم وي او چې د ښځې نه پرته د پلار کومه مرحله راځي خوشحال پۀ هغې هم پوره بحث کړے دے یعنې د خوشحال ائیډیل به د خپلې ټولنې ټولې رشتې پۀ یو خاص ټاکل شوي د پښتونولۍ او شرعي نظام پۀ رڼا کښې مخ ته بیائي - دلته کۀ د خوشحال سره اختلافات کېږي هغه دا دے چې د ښځې متعلق د هغۀ عموماً پېغام هم هغه دے کوم چې د زاړۀ تهذیبونو نه د ښځې سره منسلک راروان دے دغه فرسوده روایات د خوشحال هم دي - لکه دا چې ښځه ناکس عقل ده، دا نۀ د ربوبیت لائقه ده نۀ د نبوت او نۀ د ولایت- دلته خوشحال ښځه صرف د نسل د زیاتولو یوه اله تصور کوي کوم چې امکان لري چې د فېمن ایزم پۀ رڼا کښې پۀ مستقبل کښې یو څوک د خوشحال جائزه واخلي او د فرسوده روایاتو پالونکے ئې وګرځوي-

نطشے هم د ژوند پۀ معامله کښې ښځې ته د یوې کهلونې پۀ نظر ګوري د نطشے خیال دے چې ښځه صرف د ماشوم د پېدا کولو د پاره د یوې الې کار ورکوي- خو د دې نه پرته د نطشے مجموعي تاثر د ښځو متعلق نفرت امېز دے او دغه نفرت امېز فکر متعلق ول ډیورنټ لیکي :

"ہمارا فلسفی مغرور اور متکبر تھا لیکن انسانی کمزوریوں سے بالاتر نہ تھا کیونکہ ایک دن ناگہاں مبتلائے عشق ہو گیا لیکن مشکل ان پڑی کہ سالوی کی نطشے سے ذرا بھی پیار نہ تھا۔۔۔۔۔۔۔۔ نطشے مایوس ہوا اور بھاگ نکلا بھاگتا جاتا تھا اور عورتوں پر فقرے کستا جاتا تھا۔"[8]

زمونږه فلسفي مغرور او متکبره و خو د انساني کمزورو نه بالاتر نۀ ؤ ځکه چې یوه ورځ پۀ عشق کښې ګرفتار شو خو مسئله هغه وخت رامخې ته شوه چې د "سالوي" د نطشے سره زره مینه هم نۀ وه--------- نطشے مایوسه شو او د تېښتې لار ئې خپله کړه ، پۀ ښځو ئې بد ووئیل شروع کړل-

د نطشے پۀ افکارو کښې د ښځو سره نفرت ځرګندېدل یا هغوي صرف د ماشوم پېدا کولو یوه اله ګرځول هم دغه ښائي چې نطشے ته دوه ځله عشق شوے ؤ او پۀ هغې کښې د ناکامۍ نه پس لکه چې د احساس کمترۍ ښکار شوے وي او دغه ناکامي د هغۀ پۀ افکارو کښې ځرګنده شوې ده - لکه نطشے وائي چې د وادۀ د پاره محبت یا عشق هیڅ معنٰی نۀ لري خو دلته بغېر لۀ دغې شاید چې جنسي اړیکې هم قایمې نۀ شي - یوه جنسي اړیکه هغه ده چې انسان ئې د خپلې لوږې د سړولو پۀ غرض د پېسې پۀ بدل کوي یا د زور زیاتي کومه چې پۀ ټولنه کښې د مقدسه عمل توهین دے او بله جنسي اړیکه هغه ده چې انسان ئې د ماشوم د پېدائش د پاره کوي دغه د ارتقا حصه ده د دې د پاره کۀ عشق نۀ وي یا محبت شرط نۀ شي هم هغه وړومبۍ اړیکې ته ورته کېږي - د خوشحال او د نطشے د بشپړه کردارونو پۀ ټولنیزه مطالعه کښې یوه خبره دا هم ده چې خوشحال د خپل کردار تکمیل د عمر پۀ اخري حصو کښې کړے دے چې پۀ هغې کښې د هغۀ ذاتي د ژوند تجربه شامله ده لکه دا چې بشپړه سړے به ملوکیت څنګه کوي، دے به سردار پۀ کوم ډول وي دے به پلار پۀ کوم ډول وي، دے به زوے یا لُور پۀ کوم ډول باندې ساتي، دے به د ګاونډیانو، وینزو، نوکرانو تربیت کښې کوم کردار لوبوي او بیا خوشحال چې کوم هنرونه او کوم خصلتونه یادوي دغه د هغۀ ذاتي تجربه ده چې د دستار سړي معیار ورباندې ټاکي- البته د نطشے سپر مېن پۀ داسې حالاتو کښې مخې ته راغلے دے چې هغه دغه وخت یو خوا جسماني ناروغتیاو سره مخ و بل خوا د روایت شکنۍ له وجې د باسلے پوهنتون د استاذۍ نه ویستلے شوے ؤ او لویه خبره دغه ده چې محبت ورته تر لاسه نۀ شو او وادۀ ئې شوے نۀ دے - د نطشے د مزاج متعلق تاریخ دا هم لیکي چې د چا سره پۀ رشته کښې مستقل مزاجه نۀ ؤ او د دغې وجې هغۀ یواځې ژوند اختیار کړے ؤ کوم چې د هغۀ پۀ ټولنیز ژوند اثرات غورځولي وو-

## مذهبي اقدار:

د مذهب متعلق پورته پۀ تفصیل سره بحث شوے دے دلته د خوشحال او د نطشے پۀ ائیډیل تصوراتو نظر اچول دي - تر هر څۀ اول چې د خوشحال د بشپړه سړي د مذهبي افکارو جایزه اخلو نو پورته د الجبلي د انسان کامل سره پۀ پرتلیز جاج کښې د خوشحال او د هغۀ د ائیډیل مذهبي افکار ځرګند دي- یعنې پۀ لنډو ټکو کښې دا خبره تکراروم چې خوشحال پۀ

اسلامي مذهب کښې سني دے او دغه لار ئې د ائيډيل تصور کردار هم ده - ولې د نطشے پۀ حواله چې راځو نو نطشے پۀ ائيډيل تصوراتو کښې د افلاطون نه راواخلې تر خوشحاله پورې تر ټولو پۀ دغه حواله بدل دے يا ځانګړے دے چې هغه د مذهب پۀ حواله صفا منکر دے - بلکې د نطشے سپرمېن خپل خبر او شر خپل اختيار ګرځوي - د دغې د پاره هغۀ د "خدا ے د مرګ" تصور ځکه راوړي چې پۀ دغه يوه جمله کښې د کلهم مابعدالطبيعاتو رد کوي - افلاطون او د هغۀ پېروکارو يا د هغۀ نه اثر اخستونکو چې څومره هم مثالي کردارونه غوره کړي دي پۀ يو نه يو حواله د جوهر قايله ده خو د نطشے سپرمېن کۀ جديد بللے شي هم پۀ دې بللےشي چې هغه د سره د جوهر قائل نۀ دے بلکې د وجوديت ستر علمبردار دے - نطشے چې کله د فوق البشر تعليم ورکوي نو پۀ صفا ټکو کښې وائي :

> "The overman is the meaning of the earth. Let your willsay: the overman shall be the meaning of the earth-
> I beseech you, my brothers, remain faithful to the earth and do not believe those who speak to you of extraterrestrial hopes! They are mixers of poisons whether they know it or not .
> They are despisers of life, dying off and self-poisoned, of whom the earth is weary: so let them fade away!
> Once the sacrilege against God was the greatest sacrilege, but God died, and then all these desecrators died. Now to desecrate the earth is the most terrible thing".[9]

فوق البشر د زمکې پۀ معنٰی دے تاسو پۀ دې خبره قايله شئ چې فوق البشر دې د زمکې پۀ معنٰی وي -

زما وروڼو! زۀ تاسو ته څوګند درکوم چې د زمکې وفادار جوړ شئ او د هغۀ خلقو خبره مۀ منئ څوک چې تاسو ته د مافوق الارض درس درکوي - کۀ تاسو پۀ دې پوهه ئې او کۀ نۀ ئې خو دوي تاسو ته زهر درکونکي دي -

يو وخت ؤ چې د خدا ے خلاف غږ کول عظيمه ګناه وه خو چې د کله نه خدا ے مړ شوے دے نو ټول ګناه ګار هم ختم شوي دي اوس وخت دے چې دا خوفناکه ګناه د زمکې خلاف غږ کول وګرځي -

يعنې د سپرمېن تصور خالص پۀ مادي بنيادونو ولاړ دے او د هر قسم توهماتي بلېک مېلنگ پۀ ضد دے دلته دا دغه پورته اقتباس نه د سپرمېن مذهبي تصور پۀ ډاګه کېږي البته دا خبره بايد چې پۀ ډاګه وي چې نطشے پۀ عېسائيت او يهوديت کښې ژوند کړے ؤ د هغۀ افکار هر څو کۀ د دغه فرسوده نظام پۀ ضد دي خو پۀ مجموعي توګه هغه د هر قسم مذهبي اقدارو نه مبرا دے- خو پۀ اقبالياتو کښې ځنې پوهان دغه مغالطه خپلوي چې د نطشے افکار د اسلامي تعليماتو نه متاثره وو خو لۀ بده مرغه ئې کليمه نصيب شوې نۀ ده دا قسمه خبرې نۀ چې ګوندې پۀ اسلام باندې احسان کېږي بلکې د نطشے تصور راغورځولو ته لاره سمول کېږي - هغۀ چې د ناروغتيا پۀ حالت کښې خپلې خور ته کوم وصيت ليکلے و صفا ئې وئيلي وو چې زما لاش ته به پادري وغېره نۀ پرېږدئ او زۀ مشرک کافر مړ شوے يم -

دا مغالطه هغه ځاے پېدا کېږي چرته چې څوک د خپل مذهب پۀ ضد لاړ شي لکه پۀ اسانه توګه پۀ هند کښې د راج کمار هېراني فلم پي کے کښې بنيادي توګه د مذهب روايتي اعمالو پۀ ضد خبره شوې ده چې پکښې هر مذهب ټارګټ شوے دے خو چې کله پۀ هند کښې ځنې هندومت مذهب والا خلقو پۀ دغه فلم بد وګڼل چې پۀ دې فلم کښې زمونږ د مذهبي افکارو سپکاوے شوے دے نو سره د دې چې دغه فلم کښې اسلامي تعليمات هم ټارګټ شوي خو هند سره د تعصب لۀ وجې هغه فلم پۀ مسلمانانو کښې زيات مقبول شو- هم دغه وجه د نطشے سره هم ده چې هغۀ خپل مذهب نه ځان خلاصي غوښتل او اخر اعلان ئې د سره د خداے د مرګ وکړو چې د سره د مذهب تصور ئې رد کړو اوس کۀ څوک د عېسائيت پۀ ضد ليکونکے وجودي نطشے د اسلام سره مخلص تصور کوي نو بد کوي - پۀ دا حواله زمونږه د اېم فل سکالره لبنٰى اقبال هم تېروتې ده چې پۀ خپله مقاله کښې وائي :

"نطشے چې د څۀ رنګ انسان، تمدن او معاشرې تعمير کول غوښتل دغه هغۀ ته پۀ اسلامي تهذيب کښې ښکارېدو "[10]

دلته زۀ ختماً خبرې د نتيجې پۀ توګه اخذ کوو چې د خوشحال بشپړه سړے او د نطشتے سپرمېن خالص د انساني ټولنې د غوره او معياري ګرځولو پۀ بنياد قائم شوي دي خو د نطشے سپر مېن چې د فکشن حصه ګرځېدلې ده نو زما پۀ خيال چې هم هغسې متنازعه شوے دے کوم چې د خوشحال د ننګيال تصور سره شوي دي خو کوم ځاے چې د ډېټ اف

اتهر خبره ده نو دغه د دغې نقادانو ذهني اختراع ګرځولے شو - البته چرته چې د نطشے د جلال خبره ده او د جنګ خبره ده نو پۀ دا حواله دواړه پۀ خپل ائيډيل کښې دغه خوښي څرګندوي خو زما پۀ نظر کښې د خوښۍ عمل نۀ دے لکه د خوشحال خټک دغه شعر چې :

"د خوشحال خټک خوښي پۀ هغه وخت شي
چې بريښنا د سپينو تورُو شي د زغرو"[11]

## حواله جات (References):

[1]: نطشے، فریڈرک، زر تشت نے کہا، مترجم ڈاکٹر ابوالحسن منصور، فکشن ہاوس لاہور، 2012ء، ص7

[2]: ابوالکلام ازار، مولانا، فلسفہ اصول ومبادی اور نشوو ارتقا، مکتبہ جمال لاہور، 2013ء، ص 142,43

[3]:Friedrich Nietzsche Thus spoke Zarathustra, Edit by Adrian Del Caro and Robert Pippin, Cambridge Universty press,2006, P. 5

[4]: نطشے، فیڈرک، زر تشت نے کہا، مترجم ڈاکٹر ابوالحسن منصور، فکشن ہاوس لاہور، 2012ء، ص58

[5]: ختک، خوشحال خان، د خوشحال ختک کلیات،ترتیب تدوین سېد محي الدين هاشمي، بهير مطبعه کابل، ۲۰۱۳ء، ص6

[6]: هم دغه ،مخ55

[7]: ختک، خوشحال خان، دستارنامه، څېړنه او سمونه ډاکټر عبدالحکیم شاه، بهیر مطبعه کابل، 2018 مخ97

[8]: ول ڈیورنٹ، داستان فلسفہ، مترجم سید عابد علی عابد، فکشن ہاوس لاہور، 2007ء، ص526

[9] : Thus spoke Zarathustra, Edit by Adrian Del Caro and Robert Pippin, Cambridge Universty press,2006, P.6

[10]: لبنٰی اقبال، د خوشحال د مثالي کردار ننګیالي یو څېړینز جاج (د ایم فل مقاله ناچاپ)، پښتونخوا مطالعاتي مرکز باچاخان پوهنتون چارسده، 16 ,2015 مخ 189

[11]: ختک، خوشحال خان، د خوشحال ختک کلیات،ترتیب تدوین سېد محي الدي هاشمي، ص6